# د اعتکاف مسایل او فضایل

ليکنه: مولوي محمد مجاهد

Download from:aghalibrary.com

اعتکاف او دهغه فضيلتونه په ډېرو احاديثو سره د نبي کريم صلى الله عليه وسلم څخه ثابت سوي دي ترتيولو لوئ ثبوت يې دادئ چي نبي کريم صلى الله عليه وسلم په خپل مدني ژوندکي هرکال اعتکاف کاوه . ماسوا د يوکال څخه چي هغه کال يې په جهاد کي د شريکيدو په وجه اعتکاف ونه کړ . خوبيايې هم په راتلونکي کال د هغه قضا راوړه) **عن انس رضي الله عنه قال کان نبي صلى الله عليه وسلم يعتکف في العشرالاواخر من ر مضان فلم يعتکف عاماً فلما کان العام المقبل اعتکف عشرين .**مشکوة) ژباړه : حضرت انس رضي الله عنه فرمايي : چي نبي کريم صلى الله عليه وسلم د روژې په اخري لسيزه کي اعتکاف کاوه يو کال يې اعتکاف ونه کی نو راتلونکی کال يې شل ورځي اعتکاف وکړ .

)**عن عائشه رضي الله عنها ان النبي صلى الله عليه وسلم کان يعتکف في العشرالاواخر من ر مضان حتي توفاه الله ثم اعتکف ازواجه من بعده .**مشکوة ( ژباړه : د حضرت عائشي رضي الله عنها څخه روايت دی چي نبي کريم صلى الله عليه وسلم د روژې په اخري کي اعتکاف کاوه تر هغه وخت پوري چي دی مبارک وفات کېدئ بياتر دنبي کريم صلى الله عليه وسلم وروسته ازواجو مطهراتو اعتکاف کوی .

**د اعتکاف فضايل :**د ابن عباس رضي الله عنها څخه روايت دی چي نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي :

**ومن اعتکف يوما ابتغاء وجه الله تعالى جعل الله بينه وبين النار ثلاث خنادق أبعد مما بين الخافقين) .**الترغيب الترهيب(

ژباړه:کوم څوک چي الله جل جلاله د رضا لپاره يوه ورځ اعتکاف وکړي نو الله پاک به د ده او د جهنم تر منځ ديوه حائل او پردې په توګه درې دومره لوی خندقونه جوړکړي چي د هغوئ په منځ کي واټن د شرق او غرب د واټن څخه هم زيات وي

**د اعتکاف حقيقت :**د اعتکاف حقيقت دا دئ چي انسان د څه وخت لپاره په مسجد کي د اعتکاف په نيت کښېني. داعتکاف لپاره خو وخت نه دئ معلوم خو بياهم چي څومره وخت د اعتکاف په نيت په مسجد کي تېرکړي هغه نفلي بلل کېږي. البته د روژې د مياشتي چي کوم مسنون اعتکاف دی د هغه لپاره د لسو ورځو موده تعين سوېده ددغه لسو ورځو څخه کم سنت اعتکاف نه ادا کېږي . همدا ډول واجب اعتکاف يعني چاچي اعتکاف نذر کړی وي نو هغه اعتکاف د يوې ورځي يوې شپې څخه کم نه اداکېږي .

**د اعتکاف ډولونه :**داعتکاف درې ډولونه دي :

لمړی واجب دوهم سنت دريم مستحب.

واجب هغه اعتکاف دی چي هغه نذر کړل سی که هغه نظر مطلق وي او که غير مطلق وي. د مطلق مثال لکه څوک چي بېله کوم شرطه د اعتکاف نذر وکړي چي فلانی وخت به زه اعتکاف کوم.

اوغير مطلق اعتکاف لکه يو څوک چي دا شرط کړي که چيري زما فلانی کار وسي نو زه به اعتکاف کوم . سنت مئوکد اعتکاف هغه دی چي د روژې د مياشتي په اخيري لسو شپوکي اعتکاف کول د نبي کريم صلی الله عليه وسلم څخه په پا بندی سره په صحيح احاديثو کي را نقل سوی وئ . که څه هم د کلي د بعضو خلکو په کولو سره د ټولو غاړي خلاصېږي. مستحب اعتکاف هغه دی چي د روژې د اخيري لسو ورځو څخه ماسېوا په يو بل وخت کي اعتکاف وسي. که څه هم د روژې په اولو لسو ورځو کي وي يا د منځ په لسو و رځو کي وي . يا په يوه بله مياشت کي وي .

**د اعتکاف شرطونه :**د عاقل مسلمان اعتکاف هغه مهال صحيح کېږي چي د اعتکاف په نيت په مسجد کي پاته سي ځکه، د اعتکاف لپاره نيت شرط دی.

دوهم : شرط د طهارة دی يعني دجنابت،حيض اونفاس څخه پاکي ځکه دوی درې سره د مسجد څخه منع کړل سوي دي (هنديه)

**د اعتکاف مستحبات**

۱ـ په اعتکاف کي ښې او نیکي خبري کول

۲ـ د روژې د میاشتي د اخیري لسو ورځو د پوره اعتکاف کوښښ کو ل.

۳ـ حتی الامکان په مسجدکي اعتکاف کول.

۴ـ د خپل توان سره سم په خپلو وختوکي ترټولو ډېر وخت په عبادت کي تېرول مثلا نفل، دقران کریم تلاوت کول،د دیني کتابونو مطالعه،د نبي کریم صلی الله علیه وسلم سپېڅلی سیرت کتل.

۵ـ او د نبي کریم صلی الله علیه وسلم مسنون اذکار یا تسبیحات ویل.

۶ـ درود شریف ډېر ویل او ترټولو بهتر درود ابرهیمي کوم چي په لمانځه کي ویل کیږي .۷ـ صلوةالتسبیح کول چي په هغه سره لس ډوله ګناهونه معافیږي نو ځکه هره ورځ صلوةالتسبیح کول پکار دي.

۸ـ د اشراق او څاښت لمونځو کول همدا رنګه دا وا بین او تهجد لمانځه خاص کوښښ کول پکار دي

۹ـ د سهار د جماعت وروسته بیا تر لمر ختلوپوري او د ماذیګرتر لمانځه وروسته بیا د ماښام تر اذانه پوري د الله جل جلاله ذکرکول او یا تلاوت کول.

۱۰ـ د شب قدر په پنځو سره ورځوکي د عبادت کولو کوښښ کول.

۱۱ـ اعتکاف کونکي ته پکار ده چي په خپل قول اوعمل سره لمونځ کونکوته هیڅ قسم تکلیف ونه رسوي او په دې باره کي ډېر فکرکول پکار دي .

**د اعتکاف اداب :**څرنګه چي د اعتکاف مقصد دادئ چي انسان د نورو ټولومصروفېتونو څخه ځان یوه طرف ته کړي او دالله جل جلاله طرفته متوجه سي ځکه په اعتکاف کي د بې ضرورته کارونو یا خبروکولو څخه ځان ساتل پکار دي . او کوم وخت چي پیداسي باید دقران کریم په تلاوت ،نفلو او داسي نورو عبادتونو کي تېرسي (احکام اعتکاف )

**په اعتکاف کي مباح شیان :**د اعتکاف په وخت کي لاندي کارونه بېله کرا هته جائز دي

۱ـ معتکف په مسجد کي خوراک، چیښاک، ناسته ،ولاړه او ارام کولای سي

۲ـ معتکف رانیول او خر څول د خپل ژوند د ضرورت د شیانو کولای سي

۳ـ معتکف د ځان سره د خوراک سامان ایښودلای سي

۴ـ معتکف د رانیولو شی په مسجدکي کتلای سي

۵- معتكف كولاى سي چي كالي بدلول ،عطر وهل اودا سي نور د نظافت كارونه تر سره كړي
۶- معتكف خپله يا دبل نكاح تړلاى سي.
۷- معتكف كه ډاكټر وي په اعتكاف كي مريضان كتلاى سي.
۸- معتكف ته د نوكانو پرېكول ،برېتونه كوچني كول جائز دي .

**فائده :**كوم كارونه چي د اعتكاف لپاره مفسد او مكروه نه وي او هغه په خپل ځان كي حلال وي هغه ټول د اعتكاف په حال كي جائز دي.

**د اعتكاف مكروهات :**د اعتكاف په حال كي دا لاندي كارونه مكروه دي:

۱- پټه خوله د عبادت په نيت كښېناستل ځكه په شريعت مقدسه كي چپ والي عبادت نه بلل كيږي .۲- معتكف ته د اړتيا پرته بېله ضرورته او بي ځايه خبري كول.۳- د معتكف لپاره و مسجد ته د تجارت سامان د خرڅولو لپاره راوړل.

**د اعتكاف مفسدات :**د اعتكاف په حال كي دغه لاندي كارونه كول واجب او نفلي اعتكاف فاسد وي :

۱- كه معتكف د اړتيا پرته د مسجد څخه د شپې يا د ورځي قصدا يا په هېره لږ ګړی ووځي اعتكاف يې فاسديږي.البته دا د ابو حنيفه رحمة الله عليه په آند. خو د ابو يو سف او محمد رحمةالله عليهما په آند كه تر نيمي ورځي زيات ووځي اعتكاف يې فاسد كېږي او كه لږګړی ووځي اعتكاف يې نه فاسد كېږي .
۲- كه معتكف دچا د فاتحي يا مريض پوښتني ته ولاړسي اعتكاف يې ماتېږي .
۳- كه معتكف يوچا د مسجد څخه په زور و ايستى اعتكاف يې فاسدېږي
۴- كه معتكف د ډوډۍ لپاره د مسجد څخه ووتئ اعتكاف يې فاسدېږي
۵- كه معتكف قصدا روژه ماته كړي اعتكاف يې فاسدېږي .
۶- كه معتكف بې سده يا لېونی سي اعتكاف يې فاسدېږي.

**یادونه :** د اعتکاف د نورو مسائلواو د دغه مضمون اړوند ه د مسائلو د حوالو لپاره د اشرفيې مدرسې څخه د روژې د فضائلو او مسائلو په نامه باندي کتاب ته مراجعه وکړی. د روژې د فضائلو او احکامو په اړه کتاب د لاندي پیوند څخه کښته کولای سی :د روژې فضائل او احکام

ماخذ :تعلیم الاسلام مجله- ۴ گڼه